وروسته به یې بیان وشي.

## سکندر په ختیځه اریانه کې:

سکندر د مخزېږدي ۳۲۷ کال په پسرلي کې له زراسپه (بلخ) نه د هند په نیت له څه باندې یو لک یوناني او باختري پوځ سره روان شو او په لسو ورځو کې د کوشان کوتل له لارې له هندوکش نه واوښت او بګرام ته ورسېد، چې هلته یې د مخه یوه چاوڼۍ جوړه کړې وه. دلته د هند د تاکسیلا پاچا او نور پاچا زامنان ورته ورغلل او د خپل رقیب د پنجاب پیاوړي پاچا پورس (Pourus) د لاندې کولو په مقصد یې د مرستې وعده ورکړه. د همدغه مقصد لپاره دوی پیلان او نور سوغاتونه هم هغه ته وړاندې کړل. سکندر د کابل سین پر غاړه ته ترڅو ننني جلال آباد ته نږدې د نیاسا (Nysa) ښار ته ورسېد، چې مؤسس یې د ډایونیسس (Dionysus) په نامه یو خدای ګوتي ګڼل کېده او سکندر هغه په خپل حال پرېښود. سکندر دلته خپل پوځ دوه ځایه کړ، وړه برخه یې د دوه قومندانانو په سروالۍ د خیبر له لارې د اباسین یا انډوس (Indus) ته د رسېدلو په مقصد وګمارله او په خپله یې د پوځ له لویې برخې سره د کونړ (خوسپس) او باجوړ لار ونیوله[۷۲]. په کونړ ي اسپه سیان (Aspasians) او په باجوړ کې د هغو

یوه څانګه ګورایینان (Guraeans) او په سوات کې یې بله څانګه اساسي نیان (Assacenians) په کلاګانو کې اوسېدل. اسپه سیان په سانسکرت کې اسواکا (Asvaka) یا اسوه غانه یادېدل، چې وروسته په اسلامي دوره کې په افغان یاد شول.

د خیبر د لارې پوځ بې له کوم خطرناک مقاومت نه په ځه باندې یوه میاشت کې اباسین ته ورسېد، خو سکندر په کونړ کې له ټینګ مقاومت سره مخ شو. د مؤلف ګرین په وینا "له هغې غرنۍ سیمې نه چې دی تېر شو ګرانه وه چې جوړه وکړي او له ډېرو دغسې قوي خلکو سره مخ شو چې ځانونه یې لومړۍ درجه جنګیالي ثابت کړل. په یوې ښتې کې غشي یې له اوږې نه تېر شو او د جنګ تر پایه پورې (چې د ۳۲۷ له نومبر نه د ۳۲۶ تر فبرورۍ پورې اوږد شو) حال یې چې په دقیق ډول ښوول شي، خورا لړزنده او عصبي به بیان شي. زیاتره دیوال لرونکي ښارګوټي چې ده پرې ودانګل ددې پرځای چې خپل ورونه پرانېزي ټینګ مقاومت وښود او څه وخت چې په پای کې لاندې شول، اوسېدونکي یې د انتقام په ډول تول له تېغ نه تېر کړل." [۷۷] سکندر د انډاکا (Indaca)، انداراج ؟)، برکوټ (Birkot بریکوټ) او آري ګاین (Arigaion) هرنای یا ارنوایی) ښارګوټو له لاندې کولو نه وروسته د چترال ښار هم لاندې کړ، چې د اسپه سیو ډېر مهم ښارو [۷۸]. د

اساسنیانو په ملک کې د مساګا (Massaga) ښارګوټی له څلورو ورځو ښتو نه وروسته په سختۍ سره ونیول شو او د هغه اوه زره هندي سرتېري اجیران یې، چې د اسپه سیانو واکمن استخدام کړي وو، ووژل. دوی د جنګ په اخر کې یونانیانو ته تسلیم شوي وو(۷۹). د اساسنیانو په سیمه کې د اورنوس (Ornos) غرو، چې د اوسني سوات او بونیر خلکو ورته پناه وړې وه. سکندر د هغو د لاندې کولو په نیت هم شو، لکه چې د سغدیانه غره کې یې هم همدغسې کړي و. یونانیان معتقد وو، چې د دوی خدایګوټو دایونيسوس (Dionysus) او هېراکلیس دې پر دمخه هند لاندې کړی وو، سکندر وغوښتل چې د هغو تقلید وکړي، بلکې تر هغو نه لا زیات وکړي نو یې هلته په جګړه کې په خپله برخه واخیستله "... او تر احتیاط نه زیات له انرجي نه کار واخیست او په پای کې چې له هرې خوا نه پرې ګوزارونه کېدل، په ځمکه ولوېده." او سخت ټپي شو. اخري بری سره له دې هم د مقدونیانو شو او سکندر لومړی کس و، چې د غره سرته وخته. د اباسین په لویدیځ کې د هغه اخري عمل ډېر زیږ و. له پلوتارک نه روایت دی، چې "... وروسته له هغه چې هغه په یوه ښار کې ورسره اوربند وکړ، پرې یې ښوول چې ولاړ شي، د تګ په وخت کې یې پرې نابېره ودانګل او ټول یې ووژل او دغه عمل د هغه په نظامي سوانح کې د یوه داغ په شان ښتی

SABAWOON.COM

دی، په نورو ټولو حالاتو کې هغه د یوه پاچا په شان د رواج له مخې جنګ کړی دی.(۸۰) "د سکندر تاریخي بیوګرافي لیکونکی پروفیسر پیټر ګرین وایي، چې "د هندوش [هندوکش] جنګي قومونو سکندر له دغسې ډېر سخت مقاومت سره مخ کړ، چې هغه هېڅکله تجربه کړې نه و.(۸۱) "

## سکندر په هند کې:

سکندر د **۳۲۶** مخزېږدي کال په اپریل کې د خپل پوځ د دواړو برخو په سروالي له اباسین نه او د هند په برخه کې چې له اټک نه یو څو میله لیرې په شمال کې پروت دی، تېر شو او د تاکسیلا نوی پاچا امفي په نظامي مرسته د پاچا پورس د لاندې کولو په نیت د پنجاب په لور روان شو. تکسیلا د اباسین او جیلم د سین ترمېنځ یو لوی ښار و او له جېلم نه اخوا د پاچا پورس علاقه وه، چې په هند کې تر ټولو پیاوړی پاچا و. ده هم د ښېسوس په شان فکر کاوه، چې سکندر به له خپل پوځ سره د جېلم له سین نه تېرېدلی ونه شي، خو سکندر له هغه نه تېر شو، لکه چې دمخه له امو نه تېر شوی و. په هغې جګړې کې چې د پورس پاچا "پوځ او د سکندر د پوځ ترمېنځ ونښتله، د هند له پوځ نه نزدې شل زره پلي او درې زره سواره تلف